# قرآني بيان

## د غزوۀ بدر نه مونږه څهٔ زده کړل؟

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه امامِ مساجد (دعوتِ اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

د جُمعةُ المبارک

14 March 2025



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 14 مارچ، کال 2025ء (13 رمضان المبارک، کال 1446ھ) د جُمعةُ المبارک

قرآني بيان پۀ نوم د

# د غزوۀ بدر نه مونږ څۀ زده کړل؟

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ___ اِطاعت د کاميابۍ ورومبے شرط دے
- ___ د ناکامو يوه بنيادي وجه
- ___ د يو تکبر کوونکي واقعه
- ___ رِيا د کاميابۍ پۀ لاره کښې خنډ دے

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

تجاويز و شکايات

+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**الله** پاک جَلَّ شَانُه فرمائي:

اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓىِٕكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾

(پاره:22، سورۀ احزاب:56)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه الله او د هغهٔ فرښتے پهٔ نبي باندې درود ليږي. اے ايمان والؤ! پهٔ هغوئي باندی درود او ډير ډير سلام وليږئ.

اِمامِ سخاوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پهٔ دې آيت کښې الله پاک د خپل خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قدر او منزلت بيان کړے دے چې الله پاک پهٔ خپلو مقربو فرښتو کښې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ثناء کوي او فرښتے پهٔ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود ليږي، بيا يـې زمکې والؤ ته حکم وکړو چې هغوئي دې هم پهٔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود او سلام ليږي چې پهٔ زمکه او اسمان کښې ټول مخلوق د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ثناء کښې مشغول شي۔ [1]

1...سعادت الدارين، صفحه:66 خلاصةً۔

درود اُن پہ بھیجو سلام اُن پہ بھیجو | یہی مؤمنوں سے خدا چاہتا ہے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## سُورۀ اَنفال، آیت: **46** او **47**

اللہ پاک جَلَّ شَانُہ فرمائي:

وَ اَطِیْعُوا اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ وَ لَا تَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا وَ تَذْهَبَ رِیْحُكُمْ وَ اصْبِرُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِیْنَ ۚ﴿۴۶﴾ وَ لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِیْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِیَارِهِمْ بَطَرًا وَّ رِئَآءَ النَّاسِ وَ یَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ بِمَا یَعْمَلُوْنَ مُحِیْطٌ ﴿۴۷﴾

(پارہ:10، سورۂ انفال:4746)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: او د اللہ او د هغۀ د رسول تابعداري کوئ او خپل مینځ کښې بے اتفاقي مۀ کوئ کنې تاسو به بے زړۀ شئ او ستاسو قُوَّت (طاقت) به لاړ شي او صبر کوئ، بے شکه اللہ د صبر کوونکو سره دے- او د هُغه خلقو پۀ شان مۀ کیږئ کوم چې د خپلو کورونو نه پۀ فخر ووتل او خلقو ته یې ځان ښودو او هغوئي د اللہ د لارې نه ایسارول کول، او اللہ د هغوئي ټول اعمال راګیر کړي دي-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** غزوۀ بدر د اِسلامي تاریخ وړومبۍ غزه ده، پۀ 17 **رَمَضَانُ المُبَارَک شریف** پۀ کال دویمه هجرۍ دا عظیم الشانه معرکه وشوه، پۀ دې کښې د کافرانو شمیره د زرو [1000] نه څه کمه یازیاته وه او د مسلمانانو شمیره 313 وه، یعنې پۀ افرادي قُوَّت کښې واضحه فرق وو، د کافرانو لښکر د مسلمانانو نه درې چنده زیات وو، د هغوئي سره ساز او سامان هم زیات وو، جنګي آلات هم ورسره کافي وو، د دې باوجود د مسلمانانو عظیمُ الشانه فتح نصیب شوه او کافران د عبرتناک شکست سره مخ شو-

پۀ قرآنِ کريم کښې د يو نه زياتو ځايونو کښې د غزوۀ بدر ذِکر موجود دے او د دې مبارکې معرکې پۀ مختلفو اړخونو رڼا اچولے شوې ده- مونږه د لسمې سيپارې، د سوره انفال د دوو آيتونو (46 او 47) د اوريدو سعادت حاصل کړو، پۀ دغه دوو آيتونو مبارکو کښې د غزوۀ بدر نه حاصليدونکي يو څو سبقونه بيان کړے شوي دي-

بنيادي طور پۀ دې باندې ځان پوهه کړئ چې پۀ ظاهري اسبابو او افرادي قوت کښې د دومره واضحه فرق باوجود اخر کافرانو شکست ولې وخوړو؟ د مسلمانانو د فتح اسباب څۀ وو؟ پۀ دې دوو آيتونو کښې هغه اسباب ذِکر کړے شوي دي يا پۀ نورو الفاظو کښې دا ووايئ چې د يو مسلمان د کاميابۍ او د ناکامۍ باطني اسباب څۀ دي؟ پۀ دې آيتونو کښې هغه اسباب بيان کړے شوي دي-

انداز ډير د نصيحت نه ډک دے او خطاب مونږه مسلمانانو ته شوے دے- ټولې 6 خبرې دي کومې چې ارشاد شوې- پۀ دې کښې 3 کارونه هغه دي د کومو چې د کولو مونږ ته حکم راکړے شو او 3 هغه دي د کومو نه چې منع کړے شوي يو- که مونږه دا 3 کارونه وکړو او د 3 کارونو نه منع شو نو څنګه چې د بدر پۀ ميدان کښې 313 ته د يو زرو [1000] پۀ لښکر باندې عظيم الشانه فتح نصيب شوې وه، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! زمونږه به هم پۀ هر ميدان کښې فتح او کاميابي نصيب کيږي-

د کاميابو دا عظيم الشانه فارمولا څۀ ده؟ راځئ چې واورو:

## (1): د الله او د رسول صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبرداري

وړومبے حکم دا چې الله پاک فرمائي:

| وَ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ<br>(پاره:10، سورۀ انفال:46) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د الله او د هغهٔ د رسول تابعداري کوئ- |
|---|---|

دا د کاميابۍ د ټولو نه وړومبۍ پوړۍ ده، د يو مسلمان د پاره پۀ هره سطح باندې د ترقۍ، کاميابۍ او بام ته د ختلو د پاره چې ضروري کوم يو څيز دے نو هغه هم دا دے چې مسلمان بنده هر وخت، پۀ هر حال کښې، پۀ هر ميدان کښې د الله پاک او د هغۀ د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبردار اوسي- چې مونږه کله د زړۀ د اِخلاصه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله ووئيله نو پۀ اِسلام کښې داخل شو، مونږه ومنله چې الله پاک يو دے، د هغۀ سره څوک هم شريک نشته، هم هغۀ زمونږه مالِک دے، هم هغۀ زمونږه خالِق دے، هم هغۀ زمونږه رازق دے، حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغۀ رسول، د هغۀ محبوب دے نو بيا پۀ مونږ باندې لازم دي چې مونږه د الله پاک او د هغۀ د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کامِل طور فرمانبرداري وکړو-

## اِطَاعت د کاميابۍ وړومبے شرط دے

د نورو قومونو انداز که هر څنګه هم وي، البته د يو مؤمِن بنده د پاره پۀ هره سطح باندې د کاميابۍ د پاره د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اطاعت وړومبے شرط دے- د چا چې يقين نۀ وي، هغۀ دې تاريخ راواخلي او وه دې ګوري، مسلمانانو چې کله هم د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ احکامو باندې عمل کړے دے نو کاميابي د دوئي نصيب شوې ده او چې کله هم مسلمانانو د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نافرماني کړې ده نو دوئي د ذِلت او د رسوايۍ سره مخ شوي دي-

غزوۀ بدر ته وګورئ! د 313 مسلمانانو د عظيم الشاني فتحې پۀ اسبابو کښې يو بنيادي سبب اطاعت او فرمانبرداري ده- د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابۀ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم د ځان سره کړل او د مدينے منورې نه روان شو، هُغه وخت د جنګ پۀ اراده باندې نۀ روانيدل ، مقصد څۀ بل څۀ وو، پۀ لاره کښې ورته معلومه شوه چې کافرانو لښکر راروان کړےدے او د بدر پۀ ميدان کښې يې راجمع کوي، پۀ دې باندې خوږ آقا

و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم سره مشوره وکړه چې اوس څۀ کول پکار دي نو د مسلمانانو وړومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق او د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا او نورو مهاجرو صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! (هُم ستاسو د پاره مو مکه پريښودله، خپل کور کلے مو قربان کړو) اوس به ځانونه هم قربانوو- بيا خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د انصارو صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم طرف ته مخ کړو، حضرت سعد بن عُبَاده رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُودريدلو او عرض يې وکړو: يَا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! کيدے شي چې تاسو زمونږ نه رائے اخلئ- اے د الله پاک اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د بدر ميدان خو دا دے چې تاسو وفرمايئ نو مونږه سمندر ته هم د کوزيدو د پاره تيار يُو- بَل صحابي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ودريدلو او عرض يې وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! مونږه د بني اسرائيلو پۀ شان نۀ يُو چې هغوئي حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته وئيلي وو:

| ترجمهٔ کنزُ العِرفان: تۀ او ستا رب دواړه لاړ شئ او وجنګيږئ، مونږ خو هُم دلته ناست يُو- | فَاذْهَبْ اَنْتَ وَ رَبُّكَ فَقَاتِلَاۤ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ﴿۲۴﴾ (پاره:6، سورۀ مائده:24) |
|---|---|

يَا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! مونږه به پۀ تاسو باندې خپل ځانونه قربان کړو-[1]

دا د اِطاعت جذبه کومه چې پۀ صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم کښې وه، پۀ اصل کښې هم دغه جذبه وه کومې چې 313 د بدر ميدان ته بوتلي هم وو او فتح يې هم ورکړې وه- يو شاعر ډيره ښکلې خبره کړې ده چې د بدر پۀ ميدان کښې د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم سره تورې هم پوره نۀ وې، د جنګ سامان هم کم وو، افرادي قوت هم کم وو، د دې باوجود هغوئي د بدر ميدان ته ولې لاړل؟ پۀ کوم باور باندې ميدان ته کوز شول- نو شاعر وائي:

---

1...شرح الزرقانی، باب غزوة بدر الكبرىٰ، جلد:2، صفحه:268264 ملتقطًا-

تھے ان کے پاس دو گھوڑے، چھ زرہیں، آٹھ شمشیریں
پلٹنے آئے تھے یہ لوگ دُنیا بھر کی تقدیریں
نہ تیغ وتیر پر تکیہ، نہ خنجر پر نہ بھالے پر
بھروسا تھا تو اِک سادی سی کالی چادر والے پر (1)

دا دے د کامیابۍ اصلي بنیاد---!! د دې نه بغیر د یو مسلمان کامیابي ممکنه هم نۀ ده- الله پاک دې مونږ ته د اطاعت او فرمانبردارۍ توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## (2): اِتِّفاق او اِتِّحاد

پۀ دویم نمبر باندې الله پاک ارشاد فرمائي:

وَلَا تَنَازَعُوْا (پاره:10، سورۀ انفال:46)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: او خپل مینځ کښې بے اتفاقي مۀ کوئ-

دا د کامیابۍ دویم شرط دے چې مونږه پۀ خپل مینځ کښې پۀ اتفاق او اِتحاد سره اوسو، پۀ خپل مینځ کښې د جنګ جګړو او د نفسیاتي اختلافاتو نه همیشه ځان بچ کړو- که مونږه پۀ خپل مینځ کښې جنګ جګړې کوو نو څۀ به کیږي؟ دلته د دې دوه اهم او بنیادي نقصانونه وښودلے شول، فرمائي:

فَتَفْشَلُوْا (پاره:10، سورۀ انفال:46)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: ګني تاسو به بے زړۀ شئ-

یَو یَو وي او دوه یَو یَو یولس وي، که مونږه جنګ جګړې کوو نو زمونږه طاقت به کم شي، مونږه به یواځې پاتې شو او دا کمزوري به پۀ مونږ کښې بے زړۀ توب پیدا کړي- او دویم نقصان به دا وي چې

---

1...شاہنامۂ اسلام، صفحہ:229۔

وَتَذۡهَبَ رِيۡحُكُمۡ (پاره:10، سورۂ انفال:46)

ترجمۂ كنزُ العِرفان: او ستاسو قُوَّت (طاقت) به لا ړ شي۔

**هوا به لاړه شي** مطلب: ستاسو طاقت به خور شي۔ پۀ تاسو کښې به هغه طاقت پاتې نۀ شي د کوم پۀ ذريعه چې تاسو کاميابي حاصله کړئ۔

## د ناکامو يوه بنيادي وجه

نن که مونږه د خپلې معاشرې جائزه واخلو نو زمونږه د ناکامۍ او پۀ عالمي سطح د مسلمانانو د تنزلۍ يوه لويه وجه دا ده چې دلته جنګ جګړې عامې دي ❀ چرته د ذات پۀ بنياد ❀ چرته د نسل پۀ بنياد ❀ چرته د رنګ پۀ بنياد باندې او ❀ چرته د زمکې پۀ بنياد باندې جګړې جاري دي بلکې ❀ تر دې پورې هم د جګړو معامله ده چې پۀ خپل مينځ کښې جګړې کيږي خو د دغه جګړو وجه هم معلومه نۀ وي ❀ پۀ ډيرو خاندانونو کښې د پلار نيکونو نه جګړې راروانې دي، بس پۀ دې بنياد باندې راتلونکے اولاد هم د يو بل دښمنان شوي دي ❀ ورونه پۀ خپل مينځ کښې جګړې کوي ❀ د اولاد د مور پلار د وژلو خبرونه هم راځي ❀ چرته ورارۀ ترۀ وژني ❀ چرته دوستان پۀ خپل مينځ کښې جګړې کوي نو خبره قتل و تباهۍ ته ورسي۔ دا جګړې، دا اختلافات مونږه د دننه نه ختموي۔

يوه ډيره مشهوره قيصه ده مونږه يـې د ماشومتوب نه پۀ کتابونو کښې لولو: يو لرګو وهلو والا وو، د هغۀ زامنو به پۀ خپل مينځ کښې جګړې کولې، لرګو والا به هغوئي پوهه کول خو هغوئي به پۀ خبره باندې نۀ پوهيدل، اخر يوه ورځ هغۀ يوه منصوبه جوړه کړه، هغۀ خپل ټول زامن راجمع کړل او هغوئي ته يـې ووئيل: لاړ شئ او لرګي راوړئ! هغوئي لرګي راوړل۔ بيا هغۀ ووئيل: دا لرګي مات کړئ! ټولو لرګي مات کړل۔ بيا لرګو والا د لرګو نه يوه ګېډۍ وتړلو او اوئې وئيل: اوس دا ګېډۍ مات کړئ! ټولو زور ولګولو خو هغه يـې مات نکړے شو۔ پۀ دې باندې لرګو والا هغوئي پوهه کړل چې اے زما زامنو! دا دے د

اتفاق طاقت---!! لرګي چې کله جدا جدا وو نو تاسو پۀ اسانۍ سره هغه مات کړل، چې کله پۀ خپل مينځ کښې يو ځائے شول نو تاسو هغه مات نکړے شو- زامن يـې پۀ دې خبره باندې پوهه شول او هغوئي جنګ جګړې پريښودلې-

دا يوه فرضي قيصه ده، مونږه پۀ ماشومتوب کښې لوستلې يا اوريدلې ده، مونږ ته معلومه هم ده خو پۀ دې باندې عمل نۀ کوو- بهر حال! پۀ خپل مينځ کښې اتفاق هُغه عظيم طاقت دے چې دا وي نو کاميابي پۀ هر ميدان کښې نصيب کيږي او چې دا طاقت نۀ وي، پۀ خپل مينځ کښې اختلافات، جنګ جګړې وي نو کاميابي نصيب کيدل ډيره ګرانه ده-

دُنيا کے جھگڑوں سے یکسر چُھڑا کر | غیروں کی الفت کو دِل سے مٹا کر
شاہِ والا مجھے اپنا بنا لو! | اپنا بنا لو! مجھے، اپنا بنا لو!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (3): صبر

پۀ دريم نمبر باندې الله پاک ارشاد فرمائي:

وَ اصْبِرُوْا (پارہ:10، سورۂ انفال:46) | ترجمۂ کنزُ العِرفان: او صبر کوئ-

صبر د کاميابۍ د پاره ډير لازمي خيز دے- تر څو پورې چې مونږه پۀ خپلو ښپو ودريدے نۀ شو نو تر هُغه وخته پورې کاميابيدے نۀ شو- کاميابي پۀ اصل کښې د صبر د نتيجې نوم دے- چې بنده پۀ هر ميدان کښې، پۀ هر مشکل کښې ثابت قدم وي نو د دُنيا يو طوفان هم هغۀ د خپل مقصد نه نشي لرې کولے، که هر څنګه سخته وي، د هغۀ قدمونه نۀ شي خوزولے، داسې ګس يوه نا يوه ورځ خوامخوا کاميابي حاصلوي -

پۀ دُنيا کښې داسې يوه کاميابي نشته کومه چې بغير د محنت او بغير د صبر نه

حاصليدے شي- مثال په طور يو ماشوم دے، هغۀ د سکول امتحان ورکوي ، د هغۀ زړۀ غواړي چې زۀ هم د نورو ماشومانو پۀ شان لوبې وکړم خو هغۀ دا خواهش غلے کوي، صبر کوي او سبق وئيلو ته توجه ورکوي، د هغۀ زړۀ غواړي چې زۀ هم وګرځم، چکرې ووهم، زۀ هم پۀ موبائل وخت برباد کړم خو هغۀ خپل خواهش غلے کوي، صبر کوي، پۀ استقامت سره پۀ سبق کښې محنت کوي نو د هغې نتيجه به څۀ ووځي؟ هغۀ به پۀ امتحان کښې کامياب شي- که خپل خواهشونه نۀ غلي کوي، نور پۀ لوبو ويني، پۀ سيلونو يې ويني، پۀ وخت بربادولو يې ويني او صبر نۀ کوي نو نتيجه به څۀ وي؟ هغۀ به پۀ امتحان کښې ناکامه کيږي- دغه حال د دُنيا د هرې کاميابۍ دے-

## کاميابي او صبر

حُضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَيۡہِ پيدائشي ولي دے، د دې باوجود هغوئي 40 کاله مجاهدات وکړل، هغوئي فرمائي: پۀ ما باندې ډيرې سختۍ کيښودلے شوې او چې کله سختۍ انتها ته ورسيدلې نو زۀ به پۀ زمکه باندې سملاستم او دا تلاوت به مې کولو:

فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ یُسْرًاۙ (۵) اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ یُسْرًاؕ (۶)
(پاره:30، سورۂ الم نشرح:65)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: نو بے شکه سختۍ سره اساني ده- بے شکه سختۍ سره اساني ده-

نو (د دې آيتونو مبارکو پۀ برکت سره به) هغه تېولې سختۍ زما نه لرې کيدلې- [1]

دا د کاميابۍ يوه طريقه (Process) دے، مونږ به د دې طريقې نه تيريږو، د تنګۍ سره که مونږه يې برداشت نۀ کړو، پۀ دې باندې صبر هم اونه کړو نو مونږه به اسانۍ ته ځنګه رسو او د دې اُلټا چې مونږه څومره هم تنګي برداشت کوو، هُم هغه همره به مونږ د پاره اسانۍ راځي-

1...طبقات الکبریٰ، للشعرانی، صفحه:181-

داسې چرې هم نۀ کيږي چې مونږه څنګه ورومبے قدم کيږدو او کاميابي زمونږه مخې ته راشي او ودريږي- صبر کول دي، د مشکلاتو نه تيريدل دي-

## د امیرِ اهلِسُنَّت صبر او کاميابي

پۀ اوسني وخت کښې زمونږ مخې ته شيخِ طريقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يو رول ماډل (A Role Model) دے، پۀ کلونو مخکښينې خبره ده، هغوئي يو مقصد اختيار کړو چې **ما ته د ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي،** هغوئي د دې مقصد پوره کولو د پاره يواځې روان شول، مشکلات هم راغلل، هغوئي تنګ هم کړے شول، خلقو ديکې هم ورکړې، خنداګانې يې پسې هم وکړې، ردې بدې ورته هم ووئيلې شوې، د هغوئي خلاف کتابونه هم وليکلے شول، پروپيګنډې پسې هم وکړے شوې، دا خو لا پريږدۀ چې **مَعَاذَ الله!** د هغوئي د وژلو سازشونه هم وکړے شول خو هغوئي ثابت قدم پاتې شول، تر دې پورې چې پۀ هغوئي باندې د وژلو حمله هم وشوه خو هغوئي ثابت قدم پاتې شول، صبر يې وکړو، برداشت يې کړل او پۀ استقامت سره، پۀ حکمت سره وړاندې روان وو، وړاندې روان وو تر دې پورې چې د هغوئي جوړ کړے شوے ښکلے تحريک دعوتِ اِسلامي پۀ ټوله دُنيا کښې عام شو، نن د هغوئي صبر رنګ راوړو، د هغوئي د محنت پۀ وجه نن پۀ ټوله دُنيا کښې د دِين کار کيږي او لوئي لوئي علمائے کرام، مفتيانِ کرام، لوئي لوئي پيران، سجاده نشين هغوئي ته د عقيدت سلامونه پيش کوي او وائي:

مسلک کا تُو امام ہے الیاس قادری! | تدبیر تیری تام ہے الیاس قادری!
تنہا چلا تو ساتھ تیرے ھو گیا جہاں | میٹھا تیرا کلام ہے الیاس قادری!
ہے دعوت اسلامی کی دنیا میں دھوم دھام | مقبول تیرا کام ہے الیاس قادری!

دا ده د صبر نتيجه--!! ځکه مونږ له هم پکار دي چې صبر وکړو، برداشت وکړو،

مشکل راشي، پریشاني راشي، مصیبت راشي، پۀ استقامت سره، پۀ حکمت سره د خپل مقصد طرف ته وړاندې ځو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! یوه ورځ به مو کامیابي نصیب شي۔

## صبر به تر څو پورې کوو۔۔۔؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږه بعضې وخت صبر خو کوو خو د صبر چې کومه موده (Time Period) وي، هغه نۀ پوره کوو۔ یاد ساتئ چې د کامیابۍ حاصلولو د پاره د صبر وخت هم ډیر اثر غورځوي۔ د کومې کامیابۍ د پاره چې درې ګینټې صبر کول پکار وي، د هغې د پاره به مونږ ته هم درې ګینټې صبر کول وي، که دوه ګینټې صبر کوو نو کار نۀ کیږي، د کومې کامیابۍ د پاره چې مونږ ته د لسو کالو د صبر ضرورت دے، د هغې د پاره به هم لس کاله صبر کول پکار وي، داسې د صبر د وخت خیال ساتل هم ضروري دي۔ د چا صاحبِ عِلم نه پوښتنه وکړے شوه: مونږ له تر کومه صبر کول پکار دي؟ هغوئي ډیر ښکلے جواب ورکړو: اوئې وئیل: اللّٰه پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِیْنَ ﴿۴۶﴾ (پاره:10، سورۂ انفال:46) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه اللّٰه د صبر کوونکو سره دے۔ |

لهٰذا چې تر څو پورې تۀ غواړې چې د اللّٰه پاک (مدد او نصرت) ستا سره وي، تر هُغه وخته پورې صبر کوه۔ اللّٰه پاک دې مونږ ته د صبر او د برداشت توفیق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

دا هُغه درې کارونه دي کوم چې د کامیابۍ حاصلولو د پاره مونږ ته کول دي: (1): د اللّٰه او د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اطاعت (2): پۀ خپل مینځ کښې اتفاق او اتحاد (3): صبر۔ اوس هُغه درې کارونه واورئ! کوم چې د کامیابۍ د پاره نۀ کول ضروري دي۔

## (4): تکبر نۀ کول

الله پاک فرمائي:

وَ لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ بَطَرًا (پاره:10، سورۀ اَنْفال:47)

ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او د هغه خلقو په شان مۀ کيږئ کوم چې د خپلو کورونو نه په فخر ووتل او خلقو ته يې ځان ښودو۔

دا پۀ غزوۀ بدر کښې د کافرانو د شکست د اسبابو بيان دے چې د هغوئي شميره يو زر [1000] وه، جنګيالي هم وو، ساز او سامان هم د هغوئي سره ډير وو، ظاهري اسباب هم د هغوئي سره زيات وو او د مسلمانانو لښکر 313 دے، توري ورسره هم پوره نۀ دي، د خوراک څښاک سامان ورسره هم پوره نۀ دے، شميره يې هم دوه چنده کمه ده، د دې باوجود د مکې کافرانو شکست ولې وخوړو؟ د هغوئي د ناکامۍ اسباب څۀ وو؟ الله پاک هغه اسباب مونږ ته وښودل خو مخاطِب يې هم مونږ کړو يعنې د هغوئي د ناکامۍ چې کوم اسباب وو، مونږ ته يې وفرمائيل چې تاسو دا کار چرې هم مۀ کوئ۔ هغه اسباب څۀ دي؟ فرمائي:

خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ بَطَرًا (پاره:10، سورۀ اَنْفال:47)

ترجمهٔ كنزُ العِرفان: د خپلو کورونو نه پۀ فخر ووتل۔

دا د ناکامۍ بنيادي سبب دے: ❀ فخر کول ❀ زۀ زۀ کول ❀ پۀ خپلو مَتو باندې ❀ پۀ خپل طاقت باندې ❀ پۀ خپل عقل باندې ❀ پۀ خپله پيسه باندې ❀ پۀ خپل ذهانت باندې باور کول او وئيل چې زۀ به دا کار وکړم۔ دا څيز انسان تباه او برباد کوي۔

د روايتونو مطابق د مکې کافران چې کله د بدر ميدان ته د خپلو کورونو نه ووتل نو د غرور او تکبر پۀ نشه کښې مست وو، ابو جهل وئيلي وو چې پۀ خدائے مې دې قَسم وي! مونږ به پۀ شان او شوکت سره بدر ته ځو، هلته به اوښان ذبح کوو او ښه به يې [پخپله]

خورو، [پۀ نورو به يـې] خورو، شرابونه به څښنو، د ګډا محفلونه به جوړوو- [1] دا د هغوئي غرور وو، بيا د دې نتيجه څۀ راغله---!! د مکې کافرانو ته عبرتناک شکست ميلاوشو-

## غرور سر ښکته وي

دا صرف هُم يوه د بدر واقعه نۀ ده، تاريخ د داسې واقعاتو نه ډک پروت دے، د تاريخ کتابونه ولولئ او وګورئ چې تر ننه پورې چې چا هم غرور کړے دے، تکبر يـې کړے دے، سر د لاندې راپريوتے دے- ❀ فرعون وئيلي وو:

اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰى ﴿۲۴﴾
(پاره:30، سورۀ نازعات:24)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: زۀ ستاسو د ټولو نه اعلٰی رب يم-

د هغۀ غرور مات شو او هغۀ غرق کړے شو ❀ نمرود سر اوچت کړو، تکبر يـې وکړو، الله پاک هغۀ د ماشي پۀ ذريعه د ذِلت پۀ مرګ مُردار کړو ❀ قارُون ووئيل: زما مال دے، ما د خپل عِلم پۀ وجه باندې حاصل کړے دے، هغۀ او د هغۀ مال پۀ زمکه وردننه کړے شو ❀ ابو جهل تکبر وکړو، هغۀ فخر وکړو، هغۀ د خپل طاقت، خپل فن او ظاهري اسبابو پۀ بنياد باندې غرور وکړو، الله پاک د دوو وړو ماشومانو پۀ ذريعه هغۀ مُردار کړو-

غرض دا رښتيا دي چې دغرور سر ښکته وي- ځکه چرې هم فخر نۀ دي کول پکار، بس هم د الله پاک پۀ حضور کښې سر ټيټ ساتئ، د عاجزئ نمونه جوړه شئ- يقين وکړئ چې زمونږه هيڅ هم نۀ دي، طاقت هم د الله پاک دے، قوت هم د هغۀ دے، حکم هم د هغۀ چليږي-

## د يو تکبر کوونکي کافِر واقعه

الله پاک پۀ 15 سيپاره، سُورۀ کهف کښې د سبق نه ډکه واقعه ذِکر کړې ده- دوه کسان

---

1…سيرة ابن ہشام، غزوۀ بدر، جز:2، جلد:1، صفحه:256255۔

وو، پۀ هغوئي کښې يو کافِر وو او بَل مؤمن وو، کافر مالداره وو- د هغۀ دوه باغونه وو، پۀ هغې کښې د انګورو غنچې وې، د کجورو وَنې وې او هغۀ به پۀ هغې کښې کرونده هم کوله، د باغونو پۀ مينځ کښې نهر وو، دې دواړو باغونو به پوره پوره ميوه کوله-

د دې بد بخته سر ته د مال نشه وختله، هغۀ تڪبر وکړو او د غرور پۀ نشه کښې بے سره شو او مؤمِن له يې پيغورونه ورکړل او اوئې وئيل:

مَاۤ اَظُنُّ اَنْ تَبِيْدَ هٰذِهٖۤ اَبَدًا ۙ﴿۳۵﴾
(پاره:15، سورۀ کهف:35)

ترجمۀ کنزُ العِرفان: زۀ ګمان نۀ کووم چې دا (باغ) به کله فنا شي-

مؤمِن بنده هغۀ له ډير ښکلے جواب ورکړو، ورومبے خو هغۀ ووئيل چې که ستا سره مال دے نو څۀ وشول، الله پاک ما ته د ايمان دولت را عطا کړے دے، تۀ مالداره يې او بيا هم احسان فراموشه يې خو زۀ د خپل رَبِّ کريم فرمانبرداره يم، د هغۀ سره څوک هم شريک نۀ ګرځوم، بيا چې تر څو پورې ستا د دې باغونو معامله ده نو ياد ساتۀ!

فَعَسٰى رَبِّيْۤ اَنْ يُّؤْتِيَنِ خَيْرًا مِّنْ جَنَّتِكَ
(پاره:15، سورۀ کهف:40)

ترجمۀ کنزُ العِرفان: نو نزدې ده چې زما رب ما ته ستا د باغ نه بهتر عطا کړي-

بيا نتيجه هم هُغه راووتله کومه چې هميشه د غرور راووځي- د هغۀ پۀ باغونو افت راغلو او د هغۀ دواړه باغونه تباه شول- الله پاک فرمائي:

وَ لَمْ تَكُنْ لَّهٗ فِئَةٌ يَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَ مَا كَانَ مُنْتَصِرًا ﴿ؕ۴۳﴾ هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلّٰهِ الْحَقِّ ؕ
(پاره:15، سورۀ کهف:4344)

ترجمۀ کنزُ العِرفان: او هغۀ سره څۀ داسې ډله نۀ وه چې د الله پۀ وړاندې يې د هغۀ مدد کړے وے او نۀ هغۀ پخپله د بدل اخستلو قابل وو- دلته معلومه شوه چې ټول اختيار د رښتيني الله دے-

دا ده د پوهې خبره---!!

اَلۡوَلَایَۃُ لِلّٰہِ الۡحَقِّ ؕ

اِختیار د چا دے؟ د ربنتوني اللّٰه پاک- ځکه مونږ له پکار دي چې چرې هم تکبر نۀ کوو، همیشه د عاجزۍ نمونې شو-

## (5): ریا

اللّٰه پاک نور فرمائي:

وَ رِئَآءَ النَّاسِ (پاره:10، سورۀ انفال:47) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او خلقو ته یې ځان ښودو-

دا د مکې د کافِرانو د شکست دویم سبب دے: ریا، ښودنه، نوم او نمائش- که مونږه کامیابي غواړو نو پۀ مونږ باندې لازم دي چې د نوم او نمائش نه همیشه ځان وساتو- زمونږه هر کار صرف او صرف د اللّٰه پاک د رضا د پاره وي- د نوم او د نمائش پۀ ذریعه اګر چې بعضې وخت کامیابي حاصلیږي خو هغه پۀ حقیقت کښې کامیابي نۀ وي بلکې پۀ اوبو باندې ودرولے شوې یوه ودانۍ وي کومه چې به ډیره زر پۀ زمکه باندې راغورځیږي- یقین وکړئ چې ښودنه د انسان د ذِلت او ناکامۍ د ټولو نه لوئې وجه ده، یوه نیکي کول او هغه پۀ هر ځائے کښې بیانول، د نوم او د نمائش خواهش لرل ښه خبره نۀ ده بلکې د سپیرۀ والي سبب دے-

## ریا د کامیابۍ پۀ لاره کښې خنډ دے

یاد ساتئ چې ریا د حقیقي کامیابۍ پۀ لاره کښې ډیر لوئې خنډ [یعنې رکاوټ] دے بلکې داسې ووایئ چې هغه اسباب، هغه کارونه، هغه ذریعې کومې چې مونږه حقیقي کامیابۍ ته رسولے شي، ریا هغه ذریعې د ناکامۍ اسباب جوړوي- یعنې ریا دومره خرابه

بيماري ده کومه چې د کاميابۍ ذريعو ته نقصان رسوي- مثال طور ❁ نـمونځ د کاميابۍ ډيره اهمه او بنيادي ذريعه ده، څومره داسې بزرګان دي کوم چې د نـمونځ په برکت د ولايت اوچتو درجو ته رسيدلي دي خو دا نـمونځ که د ريا په نيت سره وکړے شي نو د کاميابۍ ذريعه نۀ بلکې د ګناه سبب جوړيږي ❁ قرآنِ کريم د کاميابۍ لويه ذريعه ده، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي چې الله پاک د قرآنِ کريم په ذريعه قومونه ته عروج او اوچت والے ورته عطا کوي- که دا قرآنِ کريم څوک د ريا په نيت سره لولي، خلقو ته د ښودو د پاره په دې باندې عمل کوي نو څۀ به کيږي؟ کاميابي به ميلاؤيږي؟ نۀ--!! بنده به اُلټا ګنهګاريږي-

حضرت مالِک بن دينار رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د الله پاک ډير لوئي ولي الله دے، يو ځل د هغوئي په زړۀ کښې خيال راغلو چې څۀ داسې صورت جوړشي چې زۀ د جومات مُتَوَلِّي [يعني منتظم] شم- نو هغوئي په هُغه جومات کښې اعتکاف او په کثرت سره نـمونځونه شروع کړل- دومره په کثرت سره د نـمونځونو کولو باوجود هم چا د هغوئي طرف ته توجه ونکړه، په داسې حالت کښې پوره کال تير شو، يو کال پس هغوئي ته غيبي اواز وشو: اے مالِکه! اوس تا ته توبه کول پکار دي-

اوس هغوي ته حقيقت واضحه شو او هغوي ته احساس وشو چې ما صرف د جومات د متولي جوړيدو په خاطِر ټول کال نـمونځونه وکړل، آه! په دې کښې د الله پاک رضا مقصد نۀ وه، دا احساس چې ورته وشو نو هغوئي توبه کړه او بيا يې د اخلاص سره صرف د الله پاک د رضا د پاره عبادت شروع کړو، صرف هم يوه شپه هغوئي عبادت کړے وو چې په بَله ورځ د جومات د دروازې مخې ته خلق راجمع وو، هغوئي په خپل مينځ کښې په مشورې سره هغوئي د جومات متولي جوړ کړو- [1]

---

1...تذکرة الاولیاء، باب چهارم، ذکر مالک دینار، جز:1، صفحه: 48 خلاصةً-

معلومه شوه چې ريا هُغه بد ترينه بيماري ده کومه چې **زمونږه د کاميابۍ پوړۍ د ناکامۍ سبب جوړوي-** ځکه هميشه د ريا، ځان ښودلو او د نوم او د نمائش نه بچ کيدل پکار دي- د مخکښينو مسلمانانو د کاميابۍ بنيادي وجه هم دا وه چې هغوئي د بَل يو څيز طلب ګار نهٔ وو، هغوئي د الله او د هغهٔ د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا غوښتله، خو زمونږه د ناکامو بنيادي وجه هم دا ده چې مونږه دُنيا غواړو، پيسه غواړو، منصب او خپل نوم غواړو- الله پاک دې مونږه د ريا د دې افت نه محفوظ کړي- کاش چې زمونږه هر عمل د الله پاک د رضا د پاره جوړ شي-

مِرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو | کر اِخلاص ایسا عطا یاالٰہی!
عبادت میں گزرے مری زندگانی | کرم ہو کرم یاخدا! یاالٰہی!

## (6): د الله پاک د لارې نه منع کول

الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ<br>(پاره:10، سورهٔ انفال: 47) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هغوئي د الله د لارې نه ايسارول کول- |

دا د مکې د کافِرانو د ناکامۍ دريم سبب دے- د مکې کافران د الله پاک د دِين د ختمولو، خلق د دِين د لارې نه د لرې کولو د پاره راوتلي وو خو صرف د 313 لښکر د الله پاک د کلمې اوچتولو د پاره وتلے وو- ځکه کافرانو ته عبرتناک شکست ميلاوشو او دا 313 کومو چې د الله پاک د دِين سربلندي غوښتله، د هغوئي عظيم الشانه فتح نصيب شوه- مونږ ته هم دغه حکم وکړے شو چې اے ايمان والؤ! د مکې د کافرانو د ناکامۍ سبب ستاسو مخې ته دے، تاسو هيڅکله هم داسې مهٔ جوړيږئ، تاسو هيڅکله هم د الله پاک د لارې نه منع کوونکي مهٔ جوړيږئ، ګنې لکه څنګه چې د مکې کافران د عبرت نخښه جوړه شوې وه، تاسو به هم د ناکامو سره مخ شئ-

نن سبا دا بلا هم پۀ ورو ورو زمونږه پۀ معاشره کښې عامه کيږي، خلق برناحقه د نيکئ پۀ لاره کښې خنډان [يعني رکاوټونه] پيدا کوي- خاص طور مور پلار او دوستان او خپلوان پۀ نيکه لاره تلونکو ته چې کوم پيغورونه ورکوي، دوستان خپلوان چې هغۀ ځنګه تنګوي، مثلاً چا د سُنَّت مطابق ګيره پريښودله نو هغۀ ته ګډې وډې وائي، عمامه شريف يې پۀ سر کړه، د سُنَّت مطابق يې جامې واغوستلې نو هغۀ پۀ هٔغه نيک کار باندې رټلے کيږي، دغه شان بعضې مور پلار خپل اولاد د نيکې لارې نه منع کوي، مثلاً عِلمِ دِين زده کولو ته يې نۀ پريږدي، پۀ نيکو اجتماعاتو کښې يې د شرکت کولو نه منع کوي، داسې خلقو ته سميدل پکار دي-

## د مَدَني قافلې نه د منع کولو نقصان

د احمد آباد (هندوستان) واقعه ده، يو عاشقِ رسول يو زلمي له ترغيب ورکړو او پۀ مَدَني قافله کښې يې د سفر کولو د پاره تيار کړو خو د هغۀ والد صاحب د دُنيا پۀ تعليم کښې د خنډ [يعني رکاوټ] جوړيدو د ويرې نه د اخرت د تعليم د سفر نه منع کړو-

هغۀ ته د عاشقانِ رسول صحبت ميلاؤيدو خو پاتې شو- نتيجةً هغۀ د خرابو دوستانو لاس ته لاړو او شرابي ترينه جوړ شو- بيا د هغۀ والد صاحب ته د خپلې غلطئ احساس وشو، هغۀ هم هٔغه عاشقِ رسول ته خواست وکړو چې **دا پۀ قافله کښې بوځه که چرته د شرابو د عادت نه خلاص شي-** هٔغه عاشقِ رسول اِسلامي ورور بيا د هٔغه زلمي د مَدَني قافلې د پاره د تيارولو کوشش وکړو خو اوبه د سَر نه اوختې وې يعنې هغۀ ډير خراب شوے وو ځکه پۀ يو حالت کښې هم پۀ مَدَني قافله کښې د سفر کولو د پاره راضي نۀ شو-

صحبتِ صالِح تُرا صالح کُند | صحبتِ طالح تُرا طالح کُند

**وضاحت:** د ښو صحبت به تا ښه جوړ کړي او د خرابو صحبت به تا خراب کړي-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان خُلاصه

دا ټول 6 کارونه دي- 3 کوم چې مونږ ته کول دي: (1): د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اطاعت (2): په خپل مینځ کښې اتفاق او محبت (3): صبر- او 3 کارونه هغه دي د کومو نه چې مونږ ته بچ کیدل پکار دي: (1): تکبر نۀ کول (2): ریا نۀ کول (3): چرې هم څوک د الله پاک د لارې نه نۀ منع کول- دا 6 کارونه که مونږه اختیار کړو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! په هر میدان کښې به زمونږه کامیابي نصیب شي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## نیک اعمال (Naik Amal) موبائل ایپلي کیشن

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د نیک جوړیدو او د نیکو عملونو زیاتولو د پاره د دعوتِ اسلامي *I.T* ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې **نیک اعمال** (*Naik Amal*) دے- دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، په دې ایپلي کیشن کښې د اِسلامي وروڼو، اِسلامي خوئیندو او طالب علمانو د پاره بیله، بیله رِساله موجوده ده ✿ دا په 6 مختلفو ژبو ✿ انګلش ✿ اُردو ✿ هندی ✿ بنګالی ✿ ګجراتی او ✿ سندهی کښې استعمالیدے شي ✿ په دې کښې په مختلفو نیک اعمالو باندې مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي ✿ د هر سوال لاندې 30 خانې دي، هره ورځ د خپلې خوښې څۀ وخت هم مقرر کړئ او د خپلو اعمالو جائزه واخلئ، د دې مطابق ژوند تیروئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دې په برکت به د ګناهونو نه د بچ کیدو او د نیکو کولو ذهن جوړیږي، د زړۀ صفا والے به نصیب کیږي او کردار به مو صفا سوترا، ښکلے کیږي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**راځئ چې د بیان په اخره کښې یوه شرعي مسئله زده کړو:**

# صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

**مسئله:** که د پيشمني د وخت ختميدو نه مخکښې شرعي سفر شروع کړې نو روژه پريښودے شي-

**وضاحت:** پۀ عوامو کښې مشهوره ده چې پۀ کومه ورځ سفر کول وي نو پۀ هٰغه ورځ باندې روژه پريښودے شي- اصل مسئله دا ده: که د صبح صادِق پۀ وخت د سفر پۀ حالت کښې وي نو روژه پريښودے شي **خو که د صبح صادِق نه پس سفر شروع کول وي نو د هٰغې ورځې روژه نۀ شي پريښودے-** ياد ساتئ چې د سفر پۀ حالت کښې خومره روژې پريښودے شي، وروستو د دې قضا راوړل لازم دي -

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الحسنیٰ برکتونه (وظيفه)

### يَا مُتَکَبِّرُ

څوک چې د ويرې خوبونه ويني هغۀ دې روزانه 21 کرته **يَا مُتَكَبِّرُ** لولي، نو پۀ خوب کښې به نۀ ويرېږي- [1] اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيْم!

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...مدنی پنج سورہ ، صفحہ:247۔